مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۲۹

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (پنځه وشتمه برخه)

### محمد رحيم الهام

د (عبدالغني د زوي) فضل الدين زوی په ۱۹۳۲ز کال کې د کابل په ریشخورو کې زېږېدلی دئ. د غازي په لیسي کې ئـي زده کړې کړي دي. د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي لیسانس ئـي تر لاسه کړی، او ماستري ئـي د میشیګن له پوهنتون څخه په ژب پېـژندنه کې اخیستې ده. د انګلستان د «والس»[1] په پوهنتون کې ئـي انګلیسي لوستي او د «انګلستان د ساینس او تکنالوژی انستیتیوت»[2] ئـي لوستی دئ. د ادبیاتو د پوهنځي د پښـتو ادبي ژورنال «وږمې» محرر. د افغان ژب پوهني د انستیتیوت رئیس. په ۱۹۶۶ز کال کې د «مساوات» د جریدې محرر. د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي پوهاند. د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د فارسي دیپارتمنت رئـیس. د کابل پوهنتون د علمي شورا غړی. د پښـتو اکاډیمی او د آریانا انسایکلوپیدیا غړی. جوایز : د معارف مډال، د پیر روښان لومړی علمي مډال او د ادبیاتو لومړی او دوهم درجه مډالونه. مورنی ژبه ئـي پښـتو ده.

### خالق علمي

د روغتیا په وزارت کې مرستیال رئـیس. (د غوایي له پاڅون وروسته) په ۴۸ کلنی کې وفات سو.

### مولوي محمد سالم علمي

د دیني علومو یو عالم دئ. د ملي پلار وطني جبهې/ جبهـهٔ ملي پدر وطن د مرکزي شورى د اجرائـیوي کمیسیون غړی. له ۱۹۸۰ز کال راهیسې د اسلامي عالي شورى غړی. مورنی ژبه ئـي پښتو ده.

### ډاکټر سید یوسف علمي

د سید معصوم زوی په ۱۹۲۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حـبیـبـیې له لیسي فارغ او په ۱۹۵۴ز کال کې ئـي خپله دکتورا په تأریخ کې د هندوستان په لکهنو کې ترلاسه کړه. د کابل په پوهنتون کې د اسلامي هنر او تمدن مدرس

[1] - University of Wales
[2] - Institute of Science and Technology, United Kingdom


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

او وروسته د همدغه پوهنتون استاد. د ګڼ شمېر آثارو مؤلف او ژله پاینده م. زیار سره ئې په ګډه په افغانستان کې د معارف تأریخ لیکلی دئ. په ۱۹۸۳ز کال کې له افغانستانه ووت.

## ډاکټر ذبیح الله التزام

په ۱۹۳۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ.د استقلال له لیسې څخه فارغ او له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د امریکا متحده ایالاتو ته د لوړو تحصیلاتو لپاره لاړ. لیسانس ئې د میشیګن له ختیځ پوهنتون څخه تر لاسه کړې، ماستري او دکتورا ئې د «وین» [3] له دولتي پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. د «لیک سوپریور ستیټ کالج» [4] دولتي پوهنځي کې او په هوستون کې د تګزاس په پوهنتون کې ئې تدریس کړی دئ. د کابل د ګمرکاتو رئیس. د مالیې د وزارت سلاکار. د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي پوهاند او په پای کې ددې پوهنځي رئیس. په ۱۹۷۴ز کال کې د اقتصاد د عالي شورئ د بورډ سلاکار. په ۱۹۷۹ز کال کې د صادراتو د پراختیا د بانک رئیس. په اقتصادي چارو کې د څو کتابونو مؤلف. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده او په انګلیسي او فرانسوي هم خبرې کوي.

## عصمت الله عنایت سراج

د سردار عنایت الله زوی، په ۱۹۲۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د پنسلوانیا له پوهنتون څخه ئې د ودانیو جوړولو په څانګه کې خپله ماستري ترلاسه کړه. په کابل کې ئې د ودانیو جوړولو د انجنیر په توګه کار وکړ او په پای کې د کابل په ښاروالۍ کې د افغان ساختماني څانګې رئیس سو. له مریم سره ئې واده کړی دئ : (مریم د جلال الدین سراج لور ده او مور ئې شهزادګۍ حنیفه سراج ده چې د امیر حبیب الله خان لور وه).

## حمیدالله عنایت سراج

په ۱۹۱۷ز کال کې په جلال آباد کې زېږېدلی دئ. حمیدالله عنایت سراج د امیر حبیب الله لمسی او د سردار عنایت الله زوی دئ. خپلې لومړنۍ زده کړې ئې په کابل او منځنۍ او لوړې زده کړې ئې په فارس کې د صنایعو په لیسې کې بشپړې کړې دي. په ۱۹۳۹ز کال کې ئې خپل لیسانس په انجنیرۍ کې د تهران له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۲۹ز کال کې له خپل پلار سره مل ایران ته تبعید سو. په ۱۹۴۷ز کال کې له خپلې کورنۍ سره بېرته افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۴۸ز کال کې د معارف په وزارت کې د عمومي زده کړو او د مسلکي زده کړو د ریاست غړی سو. د عمومي زده کړو د دیپارتمنت مرستیال رئیس او په ۱۹۴۹ز کال کې د معارف په وزارت کې د ښوونکو او پرسونل د څانګې دایرکټر جنرال. په ۱۹۵۱ز کال کې د نجات د لیسې سرپرست مدیر، او په ۱۹۶۰ ز کال کې د همدې لیسې مدیر او د ثانوي تدریساتو مرستیال رئیس. په ۱۹۶۳ز کال کې په واشنګټن ډي.سي. کې د افغان سفارت قنسل او په ۱۹۶۵ز کال کې په مسکو کې د افغان سفارت قنسل. په ۱۹۶۷ز کال کې د معارف د وزارت لومړی مرستیال وزیر. په ۱۹۶۸ز کال کې د هرات والي. په ۱۹۷۱ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال «اداري» معین. له ۱۹۷۱ د ۱۹۷۲ز کال تر اپریل پورې د معارف وزیر. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د لندن سفیر. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې په دیلي کې د افغانستان د سفارت سفیر. جوایز : د معارف دریم درجه مدال، د پوهني مدال، افغانستان، (فه دینخ

[3] - Wayne University
[4] - Lake Superior State College, Michigan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

کوست – د وړتیا مډال په جرمني کې) [5]د جاپان له امپراتور څخه د لمر مډال. له ۱۹۷۸راهیسي په روم، ایټالیا کې ژوند کوي. د اعلیحضرت امان الله خان له لور شهزادګۍ عاقلې سره ئې واده کړی دی.

## خیرالله عنایت سراج

د سردار عنایت الله خان کشر ورور په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خپل لوړ تحصیلات ئې په تهران کې په یوۀ فرانسوي ښوونځي کې ترسره کړل. د باندنیو چارو وزارت کې شامل سو او د پاریس او لندن په افغان سفارتونو کې ئې د سکرتر په توګه دندې تر سره کړې. په کابل کې د ملګرو ملتونو د دفتر د معلوماتو مدیر او په ۱۹۷۵ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره د رابط افسر په توګه. د سید قاسم رشتیا له لور لیلا سره ئې واده کړی دئ. د سویټزرلند ژنوا ته لاړ او تر اوسه پورې هماغلته ژوند کوي.

## خلیل الله عنایت سراج

د سردار عنایت الله خان مشر زوی په ۱۹۱۰ز کال کې په جلال آباد کې زېږېدلی دئ. د استقلال په ښوونځي کې ئې درس لوستی دئ. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه مصاحب. په ۱۹۲۹ز کال کې له افغانستانه ووت او په تبعید کې ئې ژوند وکړ. په ۱۹۴۸ز کال کې له خپلې کورنۍ سره کابل ته راستون سو. د افغانانو د پخوانیو عکسونو یو ارزښتناک کلکسیون لري. په ۱۹۷۶ز کال په کابل کې وفات سو.

## محمد شاه ارشاد

د خروټي په قبیلې اړوند د عبدالخالق زوی په ۱۹۱۷ز کال کې په بګرام کې زېږېدلی دئ. تر ۱۹۴۳ز کال پورې ئې د کابل په دارالعلوم عربیه کې تحصیل وکړ. فقه ئې ولوستله او لیکوال سو. په ۱۹۴۹ز کال کې د «**الفتح**» او په ۱۹۵۱ز کال کې د «**طلوع افغان**» محرر. په ۱۹۵۳ز کال کې د مطبوعاتو سلاکار او په ۱۹۵۴ز کال کې د مطبوعاتو عمومي مدیر. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د پروان د خپروني مدیر. په ۱۹۵۷ز کال کې د هېواد د ورځپاڼي محرر. په ۱۹۶۲ز کال کې د مطبوعاتو په وزارت کې مدیر. د اساسي قانون د تسوید د مشورتي کمیټې غړی. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. په ۱۹۶۴ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت مرستیال وزیر. د کاپیسا له بګرام څخه د ولسي غړی. په ۱۹۶۴ز کال کې د ولسي جرګې منتخب منشي او د لیبرال اسلامیزم او معتدل پښتونیزم استازی. شاعر او ژورنالیست. له شوروي اتحاد، عراق او ایران څخه ئې لیدنه کړې وه. مورنۍ ژبه ئې پښتو وه. د خپلې کورنۍ له اکثریتو غړو سره د امین د رژیم پر مهال ووژل سو.

## عصمت الله مسلم

د کندهار په سیمو کې د فدائیان اسلام بولندوی. د ګیلاني د تنظیم غړی خو له خپلو ۳۰۰ تنو پیروانو سره د کابل ژریم ته تسلیم سو او کابل ته وتښتېد. په ۱۹۸۵ز کال کې د لویې جرګې غړی. ویل کېږي چې دی په اصل کې یو خلقي وو.

---

5 - verdienstkreuz


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## عبدالوحيد اعتمادي

په ۱۹۲۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په بېلابېلو حکومتي مقامونو کې ئـې کار کړی دئ. د لوګر او سمنګان والي. د المپیک د کمیټي رئیس. لومړی ئـې له وسیمه اکبر سره وادۀ وکړ او ورڅخه ۴ بچیان لري؛ دوهم وادۀ ئـې له حمیرا لودین سره وو او ورڅخه دوه ماشومان لري. له ۱۹۸۳ز کال راهیسي په سویتزرلند کې ژوند کوي.

## عزیز احمد اعتمادي

د غلام احمد اعتمادي زوی او د نور احمد اعتمادي ورور. د استقلال په لیسي کې ئـې زده کړې کړي دي. د افغان هوایي چلند د باختر د هوایي شرکت/ ایرلاینز جنرال ډایرکټر. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د امریکا د متحده ایالاتو په فدرال هوایي چلند[6] کې. له ۱۹۸۰ز کال را په دېخوا د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي. د کندهار د پخواني والي محمد یونس له لور ترینې یونس سره ئـې وادۀ کړی دئ.

## نور بیا

## ډاکټر فاروق اعتمادي

د غلام حیدر اعتمادي زوی په ۱۹۱۷ز کال کې په کابل...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک

6 - Federal Aviation Authority US


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ